دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دتنظيم ګډ دفتر دار الانشاء

جمهوری اسلامی افغانستان
دار الانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات

Islamic Republic of Afghanistan
Joint Electoral Management Body Secretariat

JEMBS

# د سوابقو په هکله معلومات

## د ۱۳۸٤کال د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټاکنې

د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر لومړی ځل د ولسمشر د ۱۳۸۲کال د زمري د ٤ مې نېټې د ځلوېښتمې ګڼې فرمان پر اساس جوړ شو. دا دفتر اوس د انتخاباتو د خپلواک کمېسيون له نهه افغان غړو، چې د ولسمشر حامد کرزی له خوا ټاکل شوي او څلورو بهرنيو غړو، چې د ملګروملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي ژان ارنلد له خوا ټاکل شوي، جوړ شوی دی.

د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشاء د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر اجرائيوي اوړه ده او د انتخاباتي کارونو د ترسره کولو مسؤوليت پر غاړه لري. د دارالانشاء مشري د انتخاباتو د اجرائيوي امر په غاړه ده ، چې نوموړی د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر رايه نه ورکوونکوی غړی هم دی. د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر د دارالانشاء په اتو سيمه ايزو او ۳٤ ولايتي دفترونو کې نږدې ٦۰۰۰ افغان او ٤۲٥ نړيوال فعال اساسي کارکوونکي لري. د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر او د ګډ دفتر دارالانشاء په کابل کې د جلال آباد د لويې لارې پرسر، د انتخاباتو په مرکزي دفتر کې موقعيت لري.

د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر پرېکړه کړې ده چې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټاکنې به د ۱۳۸٤ کال د وږي د مياشتې په ۲۷مه نېټه ترسره کېږي. دا ټاکنې به د ۱۳۸۳ کال د ولسمشری د ټاکنو د برياليتوب لړی ته په دوام ورکولو سره په افغانستان کې د يو بشپړ استازي حکومت د جوړولو لپاره، هغه ډول چې د بُن په تړون کې يې غوښتنه شوې، يو حياتي ګام وي.

### هغه ارګانونه چې انتخابيږي

د ملي شورا د ولسي جرګې يا د عوامو د مجلس ۲٤۹ غړي د افغانستان د خلکو له خوا نيغ په نېغه ټاکل کېږي. هر ولايت د ولسي جرګې د يوې انتخاباتي حوزې په توګه لږ تر لږه دوه غړي ټاکي. هر ولايت د ولسي جرګې د موسسانو د هيئت د استازي په توګه ګڼلای شو چې دغې جرګې ته لږ تر لږه دوه تنه غوره کوي. د هر ولايت څخه د ټاکل کېدونکو استازو دقيق شمېر د اړوند ولايت د نفوسو د شمېرد ارقامو پر اساس ولاړ دی. د مرکزي احصايې دفتر د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر ته د نفوسو ارقام ورکړل شوي دي. د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر دنفوسو د همدغو ارقامو له مخې څوکې و ويشلې او د څوکيو د شمېر په ټاکلو کې يې د ۱۳۸٤ کال د ټاکنو په قانون کې په ګوته شوي فورمول څخه کار واخيست. د ولايت د نفوسو شمېر ته په پام سره به د هرې ولايتي شورا لپاره د نهو او ۲۹ تر منځ غړي وټاکل شي، چې د ولايتي شوراګانو د رامنځته کېدلو وروسته هره ولايتي شورا خپل يو غړی د ملی شورا د مشرانو مجلس ته انتخابوي. د اساسي قانون د ۳٤مې مادې سره سم د مشرانو جرګې ۳٤ استازي په غير مستقيمه توګه د ولسواليو د شوراګانو له خوا ټاکل کېږي او پاتې ۳٤ کسان يې د ولسمشر له خوا انتصابيږي، چې د مشرانو جرګې د غړو ټول شمېر ۱۰۲ کسانو ته رسيږي.

په لومړي سر کې ټاکل شوې وه چې د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو سره يو ځای ترسره شي، خو اوس دا نا ممکنه ده چې د ولسواليو ټاکنې د ۱۳۸٤ کل د وږي تر مياشتې پورې ترسره شي، ځکه چې د ولسواليو شمېر، پولې او د نفوسو ارقام لا تر اوسه نه دي تعيين شوي. د همدې دلايلو پر بنسټ د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې وځنډول شوې. ملی شورا به له ټاکل کېدو وروسته د جمهور رئيس په غوښتنه د ولسواليو اړوند مسايل حل کړي. د دې ځنډ په نتيجه کې به، اوس مهال د مشرانو جرګې ته د ولسواليو د شوراګانو له خوا استازي ونه ټاکل شي. د دې لپاره چې په غيرمستقيمه توګه د ټاکل شويو او د ولسمشر له خوا د انتصاب شويو غړيو تر منځ انډول رامنځته شي، تمه کېږي چې ولسمشر به يوازې د انتصابي غړيو نيمايي (۱۷ کسان) انتصابوي. نو له همدې امله د ولسواليو د شوراګانو تر ټاکنو پورې به د مشرانو جرګه ٥۱ غړي ولري.

د ټاکنو د قانون له مخې به د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د استازو د ټاکلو لپاره د يوې نه لېږديدونکې رايې انتخاباتي سيستم (SNTV) وکارول شي. د دې انتخاباتي سيستم لاندې هر رايه ورکوونکی په رای پاڼه کې د يو شمېر کانديدانو له منځه يو کانديد ته يوه رايه ورکوي او هر کانديد چې ډېرې رايې ترلاسه کړي د ولسي جرګې يا و لايتي شورا غړی ټاکل کېږي.

په اساسي قانون او د ټاکنو قانون کې داسې احکام موجود دي چې په ولسي جرګه او ولايتي شورا ګانو کې د ښځو استازيتوب تضمينوي. لږ تر لږه ٦۸ ښځې به ولسي جرګې او لږ تر لږه دوه ښځې به هرې ولايتي شورا ته ټاکل کېږي. ، په هر حال، دا مهمه ده په ياد ولرو چې که ښځينه کانديدانو په يوه انتخاباتي حوزه کې ډېرملاتړ تر لاسه کړ، له دې شمېر څخه به هم ډېرې ښځې دغو جرګو ته انتخاب شي.

د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشاء يوه عملياتي طرحه برابره کړې او مسوولو ادارو ته يې د ۱۳۸٤ کال د انتخاباتي تګلارې په توګه وړاندې کړې ده. په لاندې پراګرافونو کې په عملياتي طرحه کې ښودل شوي مهم ټکي په ګوته شوي دي. دا بايد په پام کې ونيول شي، چې کېدای شي په دغه طرحه کې يو لړ ټکي د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د پرېکړو سره بدلون ومومي.

**لومړی پړاو: د کانديدانو نومونه**

د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشاء د ۱۳۸٤ کال د ټاکنو د تياريو د يو ې برخې په توګه لومړی مهمه دنده چې د کانديدانو د نومونې د پاڼو ترلاسه کول او له پړاوونو تيرول و، ترسره کړه. هر کانديد مجبور و چې خپل د نومونې کاغذونه په خپل لاس د هغه ولايت د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء د کانديدانو د نومونې دفتر کې وسپاري چې غوښتل يې سيالي په کې وکړي. له هر کانديد څخه ډيجېټل يا کمپيوټري عکس په رای پاڼه کې د کارولو لپاره واخيستل شو او يوه الکترونيکي (کمپيوټري) کاپي يې کانديد ته په انتخاباتي منډو ترړو يا کمپاين کې د کارولو لپاره ورکړای شوه. همدارنګه د کانديدانو څخه تمه کېده چې د داسې راجستر شويو کسانو يو لست وړاندې کړي چې د دوی له کانديدی څخه ملاتړ کوي ، او هغه ژمنليک لاسليک کړي چې د کانديدی لپاره د وړتيا د صفتونو (چې په اساسي قانون او د ټاکنو قانون کې په ګوته شوي دي) سره د دوی توافق تصديقوي ، او همدارنګه ، د کانديدانو کړندود هم لاسليک کړي.

د زيات تنګ انتخاباتي مهال ويش، مخابراتي او تکنالوژيکي ستونزو، د عامه پوهاوي او عامه اطلاعاتو محدود کمپاين، د حقوقي او کړنلارو اړوند مسايلو او د امنيت اړوند نه اټکل شويو امنيتي پېښو په ګډون د ډيرو خنډونو او ننګونو سره سره د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر او د دغه دفتر دارالانشاء په ټولو ولايتونو کې د کانديدانو د نومونې بهيرپه برياليتوب سره تر سره کړ.

د غبرګولي په ٥ مه نېټه د نوموني په پای ته رسېدو سره په ټول افغانستان کې ٦١٠٣ ښځينه او نارينه افغانانونو ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ته د کانديدېدو لپاره د نوموني پاڼې وسپارلې. د ٣٤ ولايتونو څخه يوزاي په دريو ولايتونو ( ننګرهار، زابل او ارزګان) کې د ولايتي شوراګانو ټاکنو ته کافي شمېر ښځينه کانديداني راوړاندې شوې نه دي.

د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر د کانديدانو لومړی (ابتدايي) لست خپور کړ څو د هغو کانديدانو پر خلاف داعتراضونو لار خلاصه شي چې باور کېږي په ټاکنو کې د دريدلو وړتيا نه لري يا په شرايطو برابر نه دي. د ټاکنو د قانون سره سم د انتخاباتي شکايتونو کمېسيون چې د ټولو ٣٤ ولايتونو څخه د شکايتونو د ترلاسه کولو ظرفيت لري، جوړ شوی دی، څو اعتراضونه تر غور لاندې ونيسي، کانديدان له کانديدی نه د غورځولو څخه خبر کړي او د چنګاښ په ٢١مه نېټه د کانديدانو د وروستي لست د چاپولو څخه وړاندې کانديدانو ته د غبرګون وخت ورکړي.

همدارنګه د وسله والو کسانو د بې وسلې کولو او په ټولنه کې د بيا ميشته کولو د کمېسيون ګډه دارالانشاء د انتخاباتي شکايتونو کمېسيون ته سلا مشوره ورکوي چې ايا کانديدانو په بشپړه توګه د بې وسلې کولو شرايط پوره کړي او د غير رسمي پوځي ځواکونو يا وسله والو ډلو سره يې خپلې ټولې اړيکې شلولې دي که نه. د انتخاباتي شکايتونو د سپارښتنې سره سم د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر د کانديدانو وروستی قطعي لېست تصديق کړ چې ١١ تنه کانديدان ترېنه د قومندانی يا د غير رسمي ځواکونو او يا وسله والو ډلو سره د اړيکو لرلو له کبله ، او همدارنګه يو تن د مشخص دولتي دفتر څخه د استعفا د نه کولو له کبله او پنځه تنه د نوموني د ملاتړ کوونکو د پوره لاسليکونو د نه درلودلو له کبله ايستل شوي دي. د نوموني د دورې په پای کې ټولو کانديدانو ته وخت ورکړ شو چې کولای شي له کانديدی نه لاس واخلي چې په پايله کې ٥٨٠٠ تنه کانديدان پاتې شول. د ولسي جرګې د کانديدانو ټول شمېر ٢٧٧٥ تنه دی چې له دې جملې څخه ٣٢٨ تنه ښځې او د ٧ کوچي ښځو په شمول ٦٨ تنه يې کوچيان دي. د ولايتي شوراګانو لپاره د کانديدانو ټول شمېر ٣٠٢٥ تنه دی چې ٢٤٧ يې ښځې دي.

## دوهم پړاو: د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې د تجديد دوره

د ١٣٨٣ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو څخه وړاندې يوه هر اړخيزه نوم ليکنه تر سره شوه چې نږدې ١١ ميليونه افغانانو د رايې ورکولو لپاره په کې نومونه وليکل. د پراخې نوم ليکنې سره سره دې ته اړتيا وه چې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو څخه وړاندې د نوم ليکنې مرکزونه بيا پرانيستل شي، چې يو شمېر بېلابېل ګروپونه دا موقع ترلاسه کړي چې نوم ليکنه وکړي: هغه کسان چې له تېرې نوم ليکنې څخه وروسته اتلس کلن شويدي يا افغانستان ته راستانه شوي وي، هغه کسان چې په تېره نوم ليکنه کې يې برخه نه وي اخيستي (په ځانګړي ډول په ځينو سيمو کې ښځو)، هغه کسان چې خپل د نوم ليکنې کارتونه يې ورک کړي دي او د هغو سيمو اوسېدونکي چې په تېره نوم ليکنه کې يې د نوم ليکنې کافي اسانتياوې نه درلودې.

سربېره پر دې، رايه ورکوونکو ته اجازه ورکړ شوې چې د نوم ليکنې دخپل کارت په معلوماتو کې، که ناسم وي، بدلون راولي په ځانګړې توګه که د دوی په کارت کې ښودل شوی ولايت له هغه ولايت سره توپير ولري چې دوی اوس مهال په کې اوسېږي. دا مهمه ده ځکه چې دا به وروسته هغه انتخاباتي حوزه وي چې دوی خپله رايه په کې ورکولای شي.

د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې د تجديد دوره نږدې د يوې مياشتې لپاره د چنګاښ له ٤مې څخه تر ٣٠مې نېټې پورې ترسره شوه. د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر داراالانشاء ددغه بهير سره د مرستې لپاره يو لړ فعاليتونه ترسره کړل. په ټول هيواد کې د رايو ورکوونکو د نوم ليکنې د ځايونو هراړخيزه

ارزونه او ټاکنه د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې د ۶۰۰۰ تنو کارکوونکو (چې وروزل شول او د روزنې بهير يې وڅارل شو) د استخدام سره يو ځای بشپړه شوه. د عامه اړيکو پراخ او هراړخيز کمپاين ترسره شو او تفصيلي امنيتي پلان جوړ او تطبيق شو. نږدې د نوم ليکنې ټول ځايونه د نوم ليکنې د خدمتونو لپاره په خپل وخت پرانستل شول او د نوم ليکنې ټول توکي ووېشل شول ، او اوس په کابل کې د معلوماتو د ثبت لپاره بېرته راټول شول.

د پېچلتياوو د ډېرو لږو رپوټونو د ترلاسه کولو سره سره ټول بهير د کړنلارو په برخه کې ډېر ښه پر مخ ولاړ. د نوم ليکنې جمله ۱۰۵۲ ځايونه په ټول هيواد کې د نوم ليکنې په دوره کې لږ تر لږه د يو څه وخت لپاره پرانستې وو ، د نوم ليکنې د بهير په موده کې د نوم ليکنې درې ځايونه د امنيتي او سياسي ننګونو له کبله تړلې پاتې شول. د يو شمېر امنيتي پېښو له کبله د نوم ليکنې خدمتونه د نوم ليکنې په ډېرو لږو ځايونو کې د لنډ وخت لپاره بند شول، خو د دستور سره سم بېرته ډېر ژر پرانستل شول او بيا په کار کې کوم بنديښت پېښ نه شو.

نږدې ۱،۷ مليونه افغانان د نوم ليکنې ځايونو ته ولاړل چې نوي کارتونه ترلاسه کړي او يا خپل موجود کارتونه تصحيح کړي.د نوو راجستر شوو کسانو په ډله کې په سلو کې ۵۶ نارينه او ٤٤ ښځې دي. په راجستر شوو کسانو کې په سلو کې څه د پاسه اته تنه کوچيان دي. سږ کال د راجستر شوو يا هغو ښځو فيصدي چې نوم ليکنه يې کړېده د تېر کال د ټاکنو په پرتله لوړه ده ، همدارنګه د افغانستان په ډېرو سنتي ساحو کې د راجستر شوو ښځو په شمېره کې د کتنې وړ زياتوالی راغلی دی ، په تېره بيا په جنوبي او جنوب ختيځه حوزو کې.

په راجستر شوو کسانو کې په سلو کې ۹۰ هغه کسان دي چې د لومړي ځل لپاره يې نوم ليکنه کړېده چې په دې توګه په افغانستان کې د هغو کسانو فيصدي چې نوم ليکنه يې کړېده ۱۳،۹ ته لوړه شوه. په سلو کې ۹ هغه کسان وو چې کارتونه يې ورک شوي او مثنی يې واخسته ، او په سلو کې يو هغه کسان دي چې په خپلو کارتونو کې يې ليکل شوي معلومات تصحيح يا سم کړيدي.

**دريم پړاو: د ټاکنو ورځ**

ټول افغانان چې عمر يې له ۱۸ کالو څخه لږ نه وي او د رايه ورکولو د نوم ليکنې کارت ولري ، کولای شي چې د ټاکنو په ورځ رايه ورکړي. رايه ورکوونکي به وکړای چې د دوی د نوم ليکنې په کارتونو کې د ښودل شوي ولايت د رايې اچونې په هر ځای کې رايه ورکړي، او د ځو ځلي رايې اچونې څخه د مخنيوي لپاره به د دوی په ګوتو باندې نه پاکېدونکی رنګ ووهل شي.

د رايې اچونې په ګډون، د انتخاباتو ټول بهير به د سياسي نهادونو د استازو، د کورنيو او نړيوالو خبري رسنيو او خپلواکو انتخاباتي کتونکو د کتنې لپاره په بشپړه توګه پرانيستی وي. تر اوسه پورې لږ تر لږه ۸۵۰۰ تنو کتونکو ، استازو او د خبري رسنيو نماينده ګانو باور ليکونه ترلاسه کړيدي.

رايه اچونه به د وږي د مياشتې په ۲۷مه نېټه د ټول افغانستان په نږدې ۶،۲۷۰ موقعيتونو کې د رايې اچونې په ۲۶،۲٤۰ ځايونو کې ترسره شي. رايه ورکوونکي به د رايې اچونې د نارينه او يا ښځينه ځانګړو ځايونو کې رايه ورکوي چې د رايې اچونې په مرکزونو کې به ۱۶۰۰۰۰ تنو پورې د رايې اچونې کارکوونکي او ۶۰۰۰ تنه امنيتي منسوبين دنده تر سره کوي.

د ټاکنو توکي د ټاکنو د ورځې لپاره د تياري نيولو په مقصد د ټول هيواد په کچه د رايه ورکولو هر ځای ته په خوندې ډول د ۱۸ بار وړونکو الوتکو، نهو چورلکو، ۱۲،۰۰ بار وړونکو لاريو،۱،۲٤۷ خرو، ۳۰۶ آسونو او ۲٤ اوښانو په وسيله وېشل کېږي. څلوېښت مېليونه رای پاڼې چې د ۶۹ بېلا بېلو ښو

لرونکي دي په جرمني ، اطریش او بریټانیا کې چاپ شوي دي. د درو اونیو په موده کې ۱۲۰۰ ټنه رای پاڼې د الوتکو په ذریعه کابل ته راوړل شوي دي. د ټاکنو د ورځې لپاره نور توکي د وېشل کېدو په حال کې دي چې ۵۰۰۰ د روزنې د لوازمو صندوقونه ، ۳٤۰۰۰ د رایو ورکولو د لوازمو صندوقونه ، ۱۵۰۰۰۰ د رای پاڼو صندوقونه ، ۱۲۰۰۰۰ بوتله نه پاکېدونکی رنګ ، ۱۵۰۰۰۰ د رای پاڼې د په نښه کولو غرفې او د رایو ورکولو د ځایونو ۱۰۰۰ ټنه فرنیچر (اثاثه او لوازم) په کې شامل دي.

د ټاکنو د بریالیتوب د باوري کېدو لپاره ښه ازمایل شوي اضطراري پلانونه د پوره احتیاطي توکو سره ، تدوین شوي دي. ددې لپاره چې د رایه ورکوونکو امنیت او د حساسو توکو خوندیتوب باوري شي ، د بهیر د هر پړاو لپاره امنیتي ، لوژستیکي او اضطراري پلانونه د افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو ، ملي امنیت او د نړیوالو پوځي ځواکونو سره په همغږۍ کې بشپړ شویدي.

**عامه اړیکې**

د عامه پوهاوي او عامه اطلاعاتو د هر اړخیزو کمپاینونه لړۍ د ډله ایزو، ځایي او چاپي خبري رسنیو او د عامه پوهاوي د مخامخ فعالیتونو د ګډ ترکیب له لارې تر سره کېږي. دغو کمپاینونو له وړاندې افغانان د کاندید په توګه د دریدو پر امکان او د بهیر په څرنګوالي خبر کړي دي او اوس مهال د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې، د ټاکل کېدونکو ارګانونو او د دغو ارګانونو د ټاکنو د بهیر په هکله پیغامونه خپروي. ځانګړې هڅې شوې او ادامه به ولري چې افغان ښځې په انتخاباتي بهیر کې ګډون ته وهڅول شي او د راستنېدونکو کډوالو او کوچیانو په شان نورې ډلې په انتخاباتي بهیر کې د دوی د ګډون له حق څخه خبر کړای شي.

په ساحه کې څه د پاسه ۱۸۰۰ عامه ښوونکو شبکه په کار ګمارل شوې ده، ترڅو په ټول افغانستان کې د وړو ټولنو سره غونډې وکړي، او څه د پاسه ۸،۳ ملیونو یا ٦۸% رایه ورکوونکو ته په بریالیتوب سره رسیدلي دي.

د عامه پوهاوي او عامه اطلاعاتو له دغه کمپاین سره د وړو مرستو پروګرام مل دی، چې د ټولنې په ټیټه کچه کې د انتخاباتي بهیر اړوند کارونو کې مرسته کوي. دا پروګرام درې سوه او پنځه اویا زره (۳۷۵۰۰۰) امریکایي ډالر بودجه لري او له هغو مؤسسو یا ټولنو سره ، چې د عامه او رایه ورکوونکو د پوهاوي د پیغامونو د خپرولو لپاره ټولنېزې غونډې جوړوي، له ۵۰ څخه تر ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو مرستې کوي. تر اوسه پورې په ټول هیواد کې د ۳۰۰،۰۰۰ تنو په ګډون سره، اته سوه پنځه پروګرامونه ترسره شوي دي.

د ۲۰۰۵ کال د مې د میاشتې راهیسې د رای پاڼو د یو مېلیون نمونو او ۲۰۰۰۰۰ تمثیلي یا تمریني رای پاڼو څخه برسېره د پوسټرونو ، بروشورونو ، رسالو او نښلېدونکو کاغذونو په شمول څه د پاسه ۱۷ مېلیونه چاپي توکي وېشل شویدي. ۵۷ تختې چې اوس په کې د رایو ورکولو د اړوندو پیغامونو دوهمه لړۍ ښودل شوېده ، په ټول هیواد کې ځای پر ځای شوي دي. په راډیو کې د خپراوي لپاره د عامه خبرتیا ۳۵ اعلانونه ترتیب شویدي او د ټاکنو اړوندو مطلبونو ته د بېلا بېلو موجودو خپرونو په چوکاټ کې ځای ورکړشویدی چې څلور اونیزې ډرامې، یو ګردی مېز او د **(( انتخابات او ستاسې سوالونه ))** ورځینی پروګرام په کې شامل دي. د ټلویزیون لپاره د ټاکنو په اړوند درې فلمونه تولید شویدي چې اوس اوس په ټول هیواد کې خپرېږي. د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې د تجدید په دوره کې شپږ ټلویزیوني اعلانونه خپاره شول ، او پرته له دې ، د رایې ورکولو د دورې په اړه درې نورې خپرونې او انځوریزې پرچې جوړې شوې. د شمېرنې د مودې لپاره به اضافي نورې خپرونې او انځوریزې پرچې (کارټوني پرچې) جوړې کړای شي. د ګرځنده راډیو ، ګرځنده تیاتر او ګرځنده سینما ټیمونه ټولو

ولايتونو ته سفر کوي او د ټاکنو په اړه پیغامونه خپروي. او په پای کې ، د رایه ورکوونکو د معلوماتو لپاره **د وړیا ټلیفون مرکز** جوړ شو چې د ټاکنو په اړه د افغانانو پوښتنو ته ځواب ووايي. تر اوسه پورې دغه مرکز ته د ورځې په منځني ډول ۳،۰۰۰ تنو ټلیفونونه کړي دي او د ۸٦،۰۰ څخه زیاتو پوښتنو ته یې د تکړه افغاني اپرېټرانو (متصدیانو) له خوا ځوابونه ویل شویدي.

## د خبري رسنیو کمپسیون

د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر دارالانشاء د خبري رسنیو د کمپسیون سره مرستې او ملاتړکړی دی. دا کمپسیون ددې لپاره منځ ته راغلی دی چې د ټاکنو د بهیر په اړه د خبري رسنیو د خپرونو څارنه وکړي او دا خبره باوري کړي چې ټولې خپرونکې سرچینې ټول قوانین او د ټاکنو په اړه د خبري رسنیو د خپرونو کړندود عملي کوي. د خبري رسنیو د څارنې یونټ (څانګه) چې په هره حوزه کې شتون لري، د ملي رسنیو په اړه تحلیلي رپوټ جوړوي او کمپسیون ته یې وړاندې کوي. د خبري رسنیو کمپسیون د دله ییزو رسنیو د کړندود د تطبیقولو د لومړني څارونکې په توګه د خپلو کارونو د ترسره کولو تر څنګ د تمویل شوو تبلیغاتي اعلانونو پروګرام پرمخ وړي او دا خبره باوري کوي چې کاندیدان د ټاکنیز کمپاین یا منډو تړړو په موده کې راډیو او ټلوېزیون ته برابر لاس رسی لري. د ټاکنو له ورځې څخه یوه اونی وړاندې د ۲،۸۰۰ څخه زیاتو کاندیدانو د دې پروګرام له لارې خپل پیغامونه خپاره کړي دي.

## څلورم پړاو: شمېرنه او له ټاکنو وروسته بهیرونه

له ټاکنو وروسته به رای پاڼې د رایو د شمېرنې مرکزونو ته راټولې او له پړاوونو څخه به تیرې شي. که چېرته امنیتي حالات اجازه ورکړي، د غه مرکزونه په ولایتي کچه ځای پر ځای کیږي. دا په دې معنا ده چې ممکن په یو ولایت کې اچول شوې رايې په اړوند ولایت کې وشمېرل شي، چې د کاندیدانو لپاره به اسانه وي چې د رایو د شمېرنې څخه کتنه وکړي او همدارنګه دا کار به د انتخاباتي بهیر روڼتیا زیاته کړي.

داسې اټکل کېږي چې د رایو شمېرنه به ۲-۳ اونۍ وخت ونیسي. په دغه موده کې به د انتخاباتي شکایتونو کمپسیون د ترسره شوي انتخاباتي بهیر اړوند سپارل شوي شکایتونه تر غور لاندې ونیسي. یوازې شکایتونو ته د رسیدګي او د شمېرنې له بشپړېدو وروسته به انتخاباتي پایلې اعلان شي.

کله چې انتخاباتي پایلې اعلان شي ولایتي شوراګانې به وکړای شي چې خپلې غونډې راوغواړي او په کار پیل وکړي. د ولایتي شوراګانو له لومړیو دندو څخه به یوه دا وي چې د خپلو غړیو له منځ څخه یو یواستازی مشرانو جرګې ته وټاکي.

د مشرانو جرګې لپاره د ولایتي استازو د ټاکل کېدو څخه وروسته به د ملي شورا د دواړو مجلسونو ټول غړي ځای پر ځای شي او کولای شي چې خپلې غونډې راوغواړي.

د افغانستان د حکومت ، د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د یوناما ( UNAMA ) له خوا **د ټاکنو وروسته د ستراتیژي جوړولو ډله** جوړه شوې ده چې د افغانستان د ټاکنېزې ادارې او هغې پروسې لپاره چې دغه اداره به يې مسؤولیت په غاړه ولري، یوه هر اړخېزه له ټاکنو وروسته ستراتیژي جوړه کړي. دغه ډله د ستراتیژي په جوړولو او همدارنګه د ستراتیژي د پلي کولو په لومړنیو هڅو کې د ټولو مینه والو او اړوندو ښکیلو خواوو له خوا وړاندې کېدونکې مرستې همغږې کوي. دوی به همدارنګه د سیاسي او حقوقي چوکاټ، فزیکي زیربنا، د ټاکنو وروسته ادارې، د کارکوونکو د ساتنې او ظرفیت لوړونې، د مرسته ورکوونکو او شریکانو د برخې اخیستنې او عملیاتي پلان او بودجو په ګډون د دې ستراتیژۍ په ټولو اړخونو باندې غور کوي. د دغې ډلې لومړنی رپوټ چاپ شوی دی او د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر په انټرنېټي وېب سایټ (وېب پاڼه) کې هم شته. د وروستي رپوټ او تطبیقي پلان د تیاري نیولو لپاره چې د سپټمبر په میاشت کې بايد چاپ شي ، د ټولواړوندو ښکېلو خواوو سره په تکراري یا پرله پسې ګردي مېزونو کې خبرې شويدي.

www.jemb.org